# احمد شاه بابا

احمد شاه بابا په اصل سدوزی او د پلار نوم يې محمد زمان خان وو. احمد شاه بابا په ۱۱۳۵ هجري کي زېږېدلئ وو. د مور نوم يې زرغونه وو او په پښتونولي يې د خپل زوی روزنه وکړه او ننګيالی يې لوی کړ.

پدغه وخت کي په افغانستان کي يو سم منظم حکومت وجود نه در لود پښتنو يوه ټينګ او زورور حکومت ته اړتيا در لوده ځو هغه وو چي د کندهار د شير سرخ بابا په زيارت کي د پښتنو مشران سره را ټول سوه او يوه لويه جرګه يې جوړه کړه۱۱٦۱ هجري.



لوی احمد شاه بابا

پدې مجلس کې ډیرې خبرې و سوې څو هغه وو چې ددې زیارت ملنګ صابر شاه د غنمو یو وږی را واخیست او د احمد شاه بابا په لنګوټه کې یې ور جګ کړ او احمد شاه بابا یې په پاچاهي و ټاکئ.
احمد شاه بابا چې یو ډېر مهربانه سړی وو د خپل زوی او یوه غریب سړي فرق یې نه کاوه نو ډېر زیات د خلکو د باور او اعتماد وړ وګرزېدئ.

احمد شاه بابا یو غښتلئ لښکر جوړ کړ. د هغه وخت د سیاست له مخې یې پر هند حملې وکړې او ډېر ځایونه یې و نیول.

احمد شاه بابا نه یوازې پاچا وو بلکې شاعر هم وو. پر ده باندې خپل هیواد ډېر ګران وو او کله چې به د هیواد څخه لیرې وو نو د هیواد په یاد به یې ښه ښه شعرونه ویل چې دلته یې د نمونې په ډول موږ یو څو شعره راوړو :

ستـــا د عشق د وینو ډک سوه ځګرونه
ستا په لاره کښې بـایلي زلمي سرونـــه
تــاتــه را سمه زړګی زمــا فــارغ سي
بـــېله تـــا مي انـــدېښنې د زړه مارونه
کـــه هر څو مي د دنیا ملکونه ډېر سي
زما به هېر نه سي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تـخت هېرومـــه چې را یاد سي
زما د ښکلي پښتونخـــوا د غرو سرونه

په ۱۱۸٦ هجري کې پسله شپږویشتو کالو پاچاهۍ څخه مړ سو او دکندهار په ښار کې ښخ سو.